محمد هارون خپل شعشعی

۰۸ دسمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنگ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲۵

۶۷- د زرۀ عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم

۶۸- د شهادت عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۶۹- د طبيعت عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۷۰- د طريقت پير ، د خرابات پير ، د دير پير ، د مُغان پير ، د ميخاني پير ، د ميکدې پير :
وګورئ کامل شيخ، کامل پير يا کامل انسان

### ۷۱- د عارف او صوفي توپير:

په « فرهنګ لغات و تعبيرات عرفاني » کي د صوفي د مفهوم او ريښي په باب راغلي دي : « ځيني وايي د صوفي ټکی، د پوهي په مانا د سوفيا " Sophia " له يوناني کليمي څخه اخيستل سوئ، چي وروسته بيا په ( ص ) سره ليکل سوئ دئ . ځيني نور وايي، صوفي ځکه صوفي بولي، چي تل به په لومړي صف يا ليکه کي ؤ . ځيني نور بيا وايي، صوفيان هغه ډله ده، چي د صوفي له اصحابوسره يې دوستي کړې يې (وي) . د ځينو نورو په عقيده، صوفي ته په دې خاطر صوفي وايي، چي اسرار يې صاف او آثار يې پاک دي[۱] . هغه څه چي په دې لړ کي، ټولو صوفيانو او عارفانو ته د منلو وړ؛ عقل اولغوي موازينوته نيژدې ګڼل کيږي، دا دي چي د « صوفي » عربي ټکی د« صوف » له ريښي څخه اخيستل سوئ دئ . د اسلام په لومړيو پېړيو کي، د صوفي په نامه د زاهدانو او رياضت کوونکو د نوملو سَوَب ( سبب ) دا ؤ، چي هغوی به د وړيو زيږ

جامي اغوستي؛ او اوږده ویښتان بې (به يې) پرېښوول[۲] . د« صوفي » اصطلاح وروسته د « عارف » له اصطلاح سره یوشان مانا پیدا کړې ده؛ او په دې توګه د وړینو کالو او اوږدو ویښتانو قید له منځه تللئ دئ . ابوعلي جوزجاني ( د دريمي هجري پېړئ په سرکي مړ ) وايي : صوفي هغه څوک دئ، چي ځان او جهان هېريږي؛ او د خدای په دید او هستی کي ځان ژوندی کيي . د نامتو تصوفي لاربنود - جُنيد بغدادي ( په ۲۹۷ يا ۲۹۸ هـ ق/ ۹۰۹ ع يا ۹۱۰ع کي مړ ) په عقيده، تصوف دادئ چي له خدای سره د صوفي مينه، وقف او اخلاص يوازي له هغه ذات سره د بې پایه مینې له مخي يي نه د کم ( کوم) بل مقصد دپاره[۳] . د اسلامي تصوف او عرفان نامتو شېخ - سيد ابوالحسن علي هجويري ( په ۴۶۵ هـ ق کي مړ ) په خپل مشهور عرفاني اثر « کشف المحجوب » کي ليکي : « ځيني د صوفي ټکی د« صفه » له کليمي څخه اخيستل سوئ ګني . له دې امله يې په لومړيیو وختو کي، صوفيانو ته د « اصحاب صفه » په نامه هم خطاب کاوه . ځینو نورو بیا د صوفي ټکی د صفأ له لغت او ريښي څخه مشتق ګڼلئ دئ[۴] . شېخ هجويري، د متصوفينو د مقام او ارزښت په باب د حضرت محمد ( ص ) هغه حديث ته ګوته نيسي، چي په هغه کي د الله سبحانه و تعالی په نظر ، د صوفیانو له بلني څخه سرغړونکو ته د غافلانو او بې خبره خلګو خطاب سوئ دئ .

تصوف د عرفان يوه جِلوه او د عملي سير او سلوک هغه لاره ده، چي د عرفان په پاکه او همېشنی چینه خړوبيږي . عرفان کُلي مفهوم دئ، چي پر تصوف سربېره، نور دينونه او مذهبونه هم پکښې شامل دي . په دې ډول ممکنه ده، چي يو څوک عارف وي؛ خو صوفي نه وي . د دې پر ضد، داسي هم کېدای سي، چي څوک د کمي ( کومي ) تصوفي طريقي پيروي وکړي؛ مګر له عرفاني عالَمه هيڅ خبر نه وي[۵] . په ځينو عرفاني آثارو کي، د « عارف » ټکی د صوفي تر ټکي لوړ او فاضل ګڼل سوئ دئ . ځيني، « عرفان » د « تصوف » علمي يا ذهني اړخ؛ او« تصوف » د « عرفان » عملي برخه بولي[۶] .

په دې ډول، عارف ياني هغه څوک، چي د شيانو په باطن او ژورتيا پوه يي . داسي کس د تصوف له نظره، هغه څوک دئ چي خدای تعالی د خپل ذات اوصفتود شهود مقام ته رسولئ يي؛ او دا مقام هغه ته د مکاشفي له لاري څرګند سوئ يي، نه د مجردي پوهي او عرفاني حال له لاري . د ځينو په نظر، عارف هغه څوک دئ، چي خپله هستي ډوله نېستي يي د حق تعالی په نېستي ډوله هستی کي فاني کړې يي؛ خو تر اوسه لا د بقأ بالله مقام ته نه يي رسېدلئ؛ د تَقَيُّد له مقامه يي د اطلاق د مقام پر لور تکل کړئ يي؛ او دهغه مطلق ذات هستي يي پېژندلې يي، چي په کايناتو کي د هرڅه ازل او ابد دئ[۷] .

له حکيم اوفيلسوف سره د عارف توپير، د حقيقت موندني او حقيقت پېژندني په لارو چاروکي نغښتئ دئ . په دې مانا، چي حکيم د خپل منطقي استدلال په مرسته حقيقتونه کشفيي؛ خوعارف د رياضت، تزکيي، نفس وژني او نا پايه ميني له لاري د کشف او شهود مقام ته رسيږي[۸] . دغه راز، فيلسوف د حقيقت موندني په کوښښو کي تل له جزء څخه د کُل پر لور درومي . په بله ژبه د موجوداتو په اثبات سره د مطلق وجود د اثبات پر لور ګام اخلي؛ په داسي حال کي، چي عارف تل په خپلو فکري او عرفاني مجاهدو کي، له کُل څخه د جزء پر لور حرکت کيي . په دې مانا، چي عارف په هر شي کي، تر هر څه دمخه د لوی ښتن هستي ګوري . د وحدت الوجود لوړ فلسفي او عرفاني مقام ته رسېدلي عارفان د رب العالمين تر بې ساري هستی آ خوا يه ټولو کايناتو کي بل هيڅ نه ويني . د دغه راز عارفانو په عقيده، د کايناتو هر موجود په حقيقت کي د همدی ابدي او ازلي، بې شانه او بې مثله هستی ظاهري او ظلي نخښې دي . په بله وينا، د دوی په اند، په کايناتو کي بې دې ستري او بې ساري هستئ اصلاً بل هيڅ شی نسته . عارفان، باطني پوهه يا مطلق حقيقت ته د رسولو پوهه ترهر ډول رسمي او

دوديزي پوهي لوړه ګني . د عرفاني او تصوفي مسألو څېړونکو، صوفيان اوعارفان د خلګوهغه ډله ګڼلي ده، چي له ټولنيز پلوه يي د صوفيانو يا« صوفيه » په نامه بولي؛ خو له فرهنګي يا علمي اړخه يي د « عرفأ » يا عارفانو په نامه ياديي[۹] .

د عرفاني او تصوفي موضوعګانو شنونکو، د صوفي اوعارف تر منځ ځينو نورو باريکو او حساسو توپيرو ته هم ګوته نيولې ده . د دوی په نظر، عارفانو تل پرمعرفت او کمال موندني ټينګار کړی دئ؛ په داسي حال کي، چي صوفيان د پوهي او معرفت مسألي ته د ارزښت په سترګه نه ګوري . متصوفان استدلال کوي، چي کولای سي د روحانيت او کامل پير په مرسته، د حقيقت موندني معراج ته ورسيږي؛ او د همدې پوهي په رڼا کي د خپل رينښتيني محبوب ديدار ترلاسه کړي . په دې ډول، صوفي د خپل پير پرعرفاني پوهي اومعرفت حساب کيي، نه پرخپله پوهه او بصيرت؛ حال دا چي عرفاني مخکښان په دې باور نه دي . ځينوعارفانو، د طريقت د کامل پير يا عرفاني لارښود وپوهي ته ډېر پام نه دئ کړئ . د تصوف اوعرفان په دونيا کي داسي لوړ او رسېدلي عارفان هم تر سترګو سوي دي، چي لږ لوستي او حتا بې سواده صوفيان يي د خپلو پيرانو او لارښوونکو په توګه غوره کړي دي؛ د مثال په توګه د اسلامي تصوف او عرفان تلپاته ستوری - مولانا جلال الدين بلخي رومي( ۶۷۲ - ۷۰۴ هـ ق) له دې ډلي عارفانو څخه دئ، چي له خپلي ژوري پوهي او لوړ علمي شهرت سره سره يي په « شمس تبريزي » مشهور، شمس الدين محمد بن ملکداد ( د ۵۸۲ - ۶۴۵ هـ ق په شاوخوا کي ژوندی) د خپل عرفاني پير په توګه غوره کړئ ؤ؛ او دهغه په مينه کي ( کي يي ) د « ديوان شمس تبريزي » په نامه لوی شعري ديوان جوړ کړ ، چي سوزناکه عرفاني غزلي يې د عاشقانو پر زړو اور لګيي .

صوفيان ادعا کوي، چي عارفان بايد د علم اوکمال دعوه پرېږدي؛ او دا سوچ له سرو وباسي، چي ګوندي کولای سي په خپلي پوهي او حکمت سره، ځانونه د مقصود و مقام ته رسولای سي . د دوی د نظريو او دلايلو پربنسټ، سالک د عِلم او حکمت په مرسته، يوازي د عِلم اليقين تر پړاوه رسېدلای سي، چي دا د حقيقت پېژندني لومړنی پړاو دئ . د دوی له نظره، د « عين اليقين » او « حق اليقين » مدارجو ته د رسېدو دپاره، پر پوهه او عرفان سربېره، کشف او مشاهدې، ميني او اُنس، بې هوښی او فنأ ته هم اړتيا سته . عارفان د صوفيانو د دې استدلال په جواب کي بيا هم د معرفت او پوهي له ملاتړه لاس نه اخلي؛ او په ټينګه وايي چي کولای سي ځانونه، د پوهي او کمال له پرېښوولو پرته، د عرفاني سير او سلوک د پړاوو په بريالي تېرولو سره د « حق اليقين » و مقام ته ورسيږي[۱۰] . په دې ډول، هرعارف د خپلي پوهي او بشپړتيا له امله عالِم هم دئ؛ خو هر عالِم، عارف نه دئ . په بله ژبه، هرعارف پوهيږي؛ او د خپلي پوهي په رڼا کي هر څه پېژني؛ هرعالِم هم د خپلي پوهي په مرسته په ډېر څه پوهيږي؛ خو کېدای سي چي د خپلي پوهي په مرسته د حقيقت پېژندني وس ونه لري . د دې استدلال له مخي، عِلم اوپوهه يوازي انسان له حقايقو سره اشنا کيي؛ پټو او نامکشوفو حقيقتو ته په واقعي مانا رسېدل يوازي د ميني او عشق، مشاهدې اومکاشفې لاري ممکن دي . په همدې ډول، هغه صوفي چي د بشپړتيا پړاو ته رسېدلئ يي، پرصوفي توب سربېره عارف هم دئ . مګر د دې پر خلاف، هرعارف صوفي نه دئ؛ ځکه کېدای سي د ده معرفت اوعرفان، د سير او سلوک له لاري نه يي تر لاسه سوئ[۱۱] . د تصوف اوعرفان مخکښانو هم په خپلو آثارو کي کله کله يوازي د صوفي کله کله هم يوازي د عارف اصطلاح کار کړې ده . ځينو دا اصطلاحګاني يو د بل پر ځای او ځينو نورو بيا په مترادفو ماناوو کار کړي دي .

دې باريکيو او ظرافتو ته په پاملرني سره، د صوفي اوعارف ترمنځ توپير، تر زياتي اندازې تخصصي او اکاډيميکه بڼه لري . په عملي ژوند کي هم د څرګندو توپيرو او روښانه بېلوونکو نخښو د نسته والي له امله، د

صوفي اوعارف اصطلاحات، يود بل پرځای کاريږي . عام خلګ څه چي د لوست او سواد خاوندان هم صوفي اوعارف ته د يوې سيکي د دوو مخويا د يوه حقيقت د دوو نومو په سترګه ګوري . له دې ټولو خبرو سره سره، مخکښ عرفاني لاربنود ــ شېخ هجويري په « کشف المحجوب » کې، له ناپوه او بې معرفته صوفي څخه د ځان ژغورني پر مسألې ټينګار کړئ دئ . ده استدلال کړئ دئ، چي د حق اوباطل د پېژندني او حق ته د رسېدو دپاره بايد تل پوهه او کمال تر لاسه سي . شېخ هجويري، دا ډول پوهه د « عِلم بالله »، « عِلم من الله » او « عِلم مع الله » پر درو بېلوبرخو يا ډولو وېشي . د عرفاني پوهې په باب د ده ددې وېش پر بنسټ، لومړی ډول ( عِلم بالله) هغه پوهه يا معرفت دئ، چي اوليأ الله د هغې په مرسته د خدای تعالی ذات پېژني . دوهم ډول ( عِلم من الله) يې د شريعت عِلم دئ؛ اود پوهې دريم ډول (عِلم مع الله )د حق تعالی د مقامو اود وليانو د مرتبواو درجو د پېژندني پوهه ده [۱۲].

د عارف صفتونه :

د بېلابېلوعرفاني او تصوفي ښوونځيو مخکښانو دغه صفتونه د عارف د ژوندانه د نه بېلېدونکو صفتو په توګه ياد کړي دي، چي ځيني يې د مانا او مفهوم له پلوه سره ورته يا نيژدې دي :

- دځان او جهان د پيدايښت؛ او د حق د ذات او صفتوپه اړه فکر کول .
- له ښښتن تعالی سره د بندګی د رسی ټړل .
- له موجوداتو او انسان سره د جليل رب د مينې؛ او له حق تعالی سره د انسان د مينې پېژندل .
- له حق تعالی سره د يوځای کېدو غوښتنه؛ او د رسېدو په لار کې هڅه کول .
- رياضت کول .
- ذکر کول .
- د خدای دپاره په زړه کې د سپېڅلي او خالصې مينې پيداکول .
- د نېکو اخلاقو تر لاسه کول؛ او له بدو عملوڅخه ګوښه توب .
- په اخلاص او رېښتينولی سره د نېکو پندونو عملي کول .
- د پوهې ترلاسه کول .
- د زړه او باطن پاکول .
- د عرفاني رازو پټ ساتل .
- د خلګوپه خدمت اوچوپړ کې دربدل .
- د حق په ذات کې فنأ کېدل .
- د حق په هستی کې بقأ موندنه يا بيرته ژوندی کېدل [۱۳]. »

د پښتنو مفکر عرفاني لاربنود - پيرروښان اورمړ انصاري ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) په خپل مشهور اثر « صراط التوحيد» کې د خپل عرفاني طريقت مُريدانو ته ددغو ايجابي او سلبي کارو سپارښتنه کيي :

« - له هرډول حرامو څخه ډډه وکړئ .
- له حلالو څخه بې اسرافه لږ خواړه و خورئ؛ او لږ اوبه وڅښئ .
- لږ خبري وکړئ؛ خبري په نرمی سره وکړئ؛ او له ناوړو خبرو ډډه وکړئ .
- له نېکانو سره خبري او ناسته ولاړه وکړئ؛ او د بدو خلګو له خبرو څخه تل ليري اوسئ . په همېشني پټ يا خفي ذکر سره د خدای تعالی ياد وکړئ .

- په خلوت او یوازیتوب سره د خدای تعالی تر پېژندولو پوري، هیڅ ارام او قرار ونه کړئ۱۴ . »

زمونږ نکته دان او واقف الاسرار عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، په خپل لوی دیوان کي یوازي دوه ځایه د صوفي اصطلاح یادیي . په یوه غزله کي، د فقیر له مقام سره د صوفي د توپیر بیان راوړي، چي په خورا ژورتیا او دقت سره یې انځور کړئ دئ :

صوفي کېش له تصرفه منـزه دئ
فقیران نشي ګوښه له عوارضـه
فقیران که تصرف په خپل عمل کښي
صوفي خلاص دئ د خپل ځان له فرایضه

مخلص، په خپلو عرفاني ډکتورینو کي تل د زړه پر صفا او سپېڅلتیا ټینګار کړئ دئ . د ده په عقیده، عارف اوصوفي هغه څوک دئ، چي د حق ذات د زړه په سترګو وګوري؛ او تل هغه ته د رسېدو هڅه وکړي :

بینادل و ته د زړه احوال څرګنـد دئ
که اغوستئ یې وربښمین وي یا زیړ صوف

په دې ډول ګورو، چي د مخلص په عرفاني او فلسفي نړۍ لید کي ظواهر هیڅ بیه او ارزښت نه لري . مخلص هم د شېخ هجویري او نورو بې شماره عرفاني صاحب نظرانو په څېر د معرفت او عرفان پر حاصلولو ډېر ټینګار کیي . هغه، انسان دې ته هڅيي، چي تر هر څه مخکي خپل ځان وپېژني؛ د خپل پیدایښت او ژوندانه اصلي رسالت وپېژني؛ د پټوحقیقتو وپېژندني ته ملا وتړي؛ او د دغو پېژندل سوو حقیقتو په رڼا کي دځان او کایناتو لوی خالق وپېژني؛ او په خپله ناپایه مینه هغه ته د نیژدې کېدوا و رسېدو کوښښونه وکي . د ده له نظره، بې معرفته عبادت یوازي رسم اورواج دئ؛ او د بې عرفانه عبادت هر ه سجده په باطن کي و شیطان ته سجده ده . له همدې امله یې عرفان او معرفت کله له لمر، کله له پټي خزانې، کله د وني له مېوې او کله هم له نورو لوړو صفتوسره تشبیه کړئ دئ .

د نور مالومات دپاره وګورئ : تصوف، دونیا، عقبا او مولا، عرفان او معرفت، فقر، دفقر ډولونه، د فقر مقام او مرتبې، فقیر او صوفي او داسي نور .

لمنلیکونه

۱سجادی ۳۰۹- ۳۱۰
۲ نیرومند محقق ۸۵ .

3 Ansari .

۴ هجویری ۱۲۰.
۵ رزمجو ۲۰۲ .
۶ رزمجو ۲۰۱ .
۷ رزمجو ۲۰۲ .
۸ سجادی ۳۲۷-۳۲۶ .
۹ یثربی ۳۵ .
۱۰ نیرومند محقق ۶۶- ۶۷.

۱۱  نیرومند محقق ۶۹ .

۱۲ هجویری ۹۸- ۹۹ ؛ نیرومند محقق ۱۰۱ .

۱۳ نیرومند محقق ۶۹ .

**۱۴ روښان ، صراط التوحید** ۸۴ ؛ **حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ** ، ۲: ۳۳۹ .